مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۳/۰۴/۱۰

# اساتیري غوا

لویدیزه نړۍ هغې اساطیري غوا ته ورته ده، چې په شاته نیمایي کې غټه پېوره غولانځ لري او ښې پرېمانه شیدې کوي.
خو نیمایي مخه یې د ناړامه، وحشي، ښکرور او سورسترګي غوایي ده، چې هرڅه په مخه ورشي په ښکرو یې وهي او خوري یې.
شاته نیمایي یې:
ساینس، علم، هنر، تکنولوژي، ولسواک سیستم، ټولنپال نظام، پر تولید ولاړ اقتصادي بنسټونه، غوره حقوقي تعامل او پر انسانمحوره اخلاقو ولاړ درناوی دي.
مخکې نیمایي یې:
د «ګټو» په تنده کې ښکېلاکي حرص، وسله جوړونه، لاسوهنه، له ختیځه د زبېښاک تنده، د نیابتي جګړو استخباراتي دسیسې او د ترهګرۍ په وړاندې د جګړې په نامه، په خپله ګټه، د ترهګرۍ مدیریت دي.

**بېل یې کړه، ابېل یې کړه او ښکېل یې کړه! (Divide and Rule!)**

د درېیمې نړۍ روسته پاتې - په تېره بیا ختیز ولسونه - له دغې اساطیري غوا (غوایي) سره خامخا مخ کیږي، له دې موجود ښخه خلاصون نه شته.
د درېیمې نړۍ هوښیار ولسونه هڅه کوي، د دغې غوا غولانځې ته ځانونه برابر کړي او بس بیا یې نو مزې دي. پرېمانه شیدې یې ورپه برخه دي. کوچ، پېروي، مستي او شرومبې ترې خوري.
پوهنه، ساینس، تکنولوژي، ودانې، سوله، پرمختیا، انسانمحوره سیاست، ولسواکي، تولید، او موډېرن ژوند ورنه رالوشي او په شاتو - شیدو ګډ ژوند لري.
د درېیمې نړۍ دویمه برخه هېوادونه هغه بدمرغه متحجري واکمنۍ دي، چې په زوره او لوی لاس د دغه وحشي غوایي ښکرو ته ځان اړم کوي.
دوی په خپلو کې په نیابتي جګړو کې ښکېل دي، له لویدیځ ښخه بوازې وسلې اخلي او استخباراتي امتیازات. خپل خلک پرې وژني او ورځ تر بلې د تیارو کومې ته ورغورځي.
دوی د خښمېدلې غوایي ښکر سره ځان موښې او ټول عمر زخمي زخمي، سوری سوری او په وینو او ژوو کې ډوب ژوند لري.
دا د درېیمې نړۍ د ولسونو په کډ شعور پورې تړلې، چې د لویدیز اساطیري غویي (غوا) له کومې نیمایي سره تعامل کوي؟




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ